# Sponsoring under Tier 1– Refugee Family Support Category
# د لومړۍ درجې یا ټییر۱ مالي ملاتړ- مهاجرینو کورنیو د ملاتړ کټګوري
# Guide to the application process
# د غوښتنلیک بهیر ته لارښود

یادونه: تاسو سپانسر /تمویلوونکي یاست

**د ثبتولو فورمه**

د ثبتولو فورمه ډکه کړئ (د لومړۍ درجې یا ټییر۱ مالي ملاتړ- د مهاجرینو کورنیو د ملاتړ کټګوري ثبتولوفورمه) **(INZ1094)**

**مهم/اړین**
کله چې د فورمې ایف برخې ته ورسېدئ ، تاسو ته به د سپانسر/تمویلوونکي اعلامیه مخې ته راشي. تاسو باید دا اعلامیه د یو وکیل یا جې پی مخې ته لاسلیک کړئ.

**اسناد**

له تاسو به وغوښتل شي ترڅو خپل اړین اسناد له خپل غوښتنلیک سره ولېږئ، د بېلګې په توګه ستاسو پاسپورټ. اصلي اسناد مه لېږئ. تصدیق شوي نقل/کاپیاني ولېږئ.

**تصدیق شوي کاپیاني** - هغه فوتوکاپیانې دي چې د یو وکیل، جې پی، د رسمي اسنادو عامه وکیل له خوا لاسلیک او مهر شوي وي ترڅو وښيي چې دا د اصلي سند ریښتینې کاپي ده.

**د نیوزیلنډ استوګنه یا تابعیت**

تاسو باید یوه تصدیق شوي کاپي ضمیمه کړئ:
ستاسو پاسپورټ کې د استوګنې ویزه، یا
ستاسو د سفر مهاجرکارت کې د استوګنې ویزه، یا
ستاسو د تابعیت سند یا د نیوزیلینډ پاسپورټ(که چېرې د نیوزیلینډ تبعه یاست).

**مجرد والدین/یواځینی بالوونکی**

که تاسو په نیوزیلینډ کې مجرد والدین یاست یا د یو محتاج خپلوانو مو یواځینی سرپرست یاست، تاسو باید د دې شواهد ضمیمه کړئ. دا کېدای شي د ورک این اینکم څخه یو لیک وي چې پکې ویيل شوي وي چې تاسو د یواځې والدینو مالي ګټه ترلاسه کوی یا له عمومي ډاکټر څخه چې تاسو د یو محتاج خپل یواځینی سرپرست یاست.

**که مو خپل نوم بدل کړی وي**

که نیوزیلینډ ته له راتګ وروسته مو خپل نوم بدل کړی وي، اړتیا ده چې یوه قانوني اعلامیه ضمیمه کړئ ترڅو د بدلون تصدیق پکې شوی اوسي. پدې اړه له مونږ سره اړیکه کې شئ.

**د غوښتنلیک لېږل**

کله چې بشپړ شو.د مهاجرینو کورنیو د ملاتړ کټګوري فورمه او ورسره ټول ضمیمه شوي اسناد لاندې پتې ته ولېږئ:

Immigration New Zealand Refugee Family Support Category
PO Box 22315
Otahuhu
Auckland 1640.

## اړین مالومات

**پیسې**

هغه کورنۍ چې تاسو یې سپانسر کوی لکه د نورو مهاجرو چې د سهمیې اړوند دي ورسره به هغه شان مالي کومک ونشي. تاسو (سپانسر) باید کله چې ستاسو کورنی نیوزیلیند ته راشي، د هغوی د استوګنې خرچه د ۲۴ میاستو یا ۲ کالو لپاره ورکړئ. تاسو اوس اړتیا نلرئ چې د دوی لپاره کور ولری، خوچې کله ویزه ورکړي ته نږدې وي، د مهاجرت اداره به وغواړي ووینې ترڅو تاسو د خپلې کورنۍ لپاره د استوګنې پلان لرئ. عامو بېلګو کې هغه شواهد شامل وي چې تاسو د خپلې کورنۍ لپاره د کور کرایه کولو لپاره کافي سپما لرئ. یا ستاسو د کورمالک اجازه چې دوی تاسو سره زوند کولای شي، یا بله کورنی چې خپل کور ولري.

وروسته له راتګ څخه نیوزیلینډ ته، دوی ته به بیړني مالي ملاتړ څخه برخمن وي. خو دوی سره به د هستوګنې لپاره پوره مالي کومک نه کیږي.

تاسو باید د غوښتنلیک لپاره چې کوم اړین اسناد پکار وي خپله پیسې ورکړئ. لکه د پولیسو لخوا سندونه، د زېږون سندونه، پاسپورټونه، او ژباړې.

**د مهاجرینو اداره به د الوتکې او طبي معایناتو لپاره پیسې ورکړي.**

د ثبتولو یا استوګنې د کیس لپاره کوم ډول فیس په تاسو نه راځي.

Community Law Waikato Trust 2023

**مهم**
د مهاجرینو اداره اړتیا لري ترڅو وګوري چې له خپلې کورنۍ څخه د هغوی له راتګ وروسته د مالي ملاتړ وړتیا لری.
د استوګنې په برخه کې چوپړ وړاندې کوونکې کولای شي تاسو سره د استوګنې په پلان کې مرسته وکړي، خو هغوی به د استوګنې لګښتونو برخه کې مرسته ونه کړي. تاسو باید له همدا اوس څخه سپما پیل کړئ.

**وروسته له هغې چې غوښتنلیک مو ولېږه**

کله چې د مهاجرینو ادارې ستاسو غوښتنلیک ترلاسه کړ، دوی به یې وګوري ترڅو ډاډمن شي چې تاسو د شرایطو وړ یاست. که چېرې دوی باوري وو چې تاسو په شرایطو پوره یاست نو تاسو ته به د استوګنې لپاره د غوښتنې کولو بلنلیک در ولیږي.
بیا ستاسو کورنۍ د بلنلیک له نېټې څخه د استوګنې لپاره د غوښتنلیک لېږلو ۱۲ میاشتې وخت لري.
د ۱۲ میاشتو مودې کې زیاتوالی نه راځي
د استوګنې لپاره د غوښتنلیک په اړه زمونږ د مالوماتو پاڼه وګورئ

**مهم**
اړینه ده ترڅو په یاد مو وي چې د غوښتنې بلنلیک ستاسو د کورنۍ د استوګنې تضمین نشي کولی. د استوګنې بهیر ډېر کلونه وخت نیسی او تاسو باید ډېرې نورې اړتیاوې پوره کړي اوسي. دا کوم چټک بهیر نه ده. ستاسو کورنې هېواد کې د خطر شتون په عمومي توګه بسنه نه کوي چې ستاسو غوښتنلیک ته لومړیتوب ورکول شي.